# زماړی

## پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

## (دولسم شعري غونچ)

ډالۍ
د هند نیمې وچې د ستر جنګیالي او فرهنګیالي
کاکا جي صنوبر حسین پاکې اروا ته

{{هغه کتابونه چې سمسور ووبپاڼې پرلیکه کړې او یا یې پرلیکه کوي، نور څوک یې}}
پرلیکه کول اجازه نه لري

د وږمو پر مړینه

که تویوي مې هسک پرځمکه

وینې د اوښکو پر ځای،

په ویر ویرژلي د بلهارو ستورــ

خو،

لاس بې پورته په دعا

د امیدو د سپیڅلتیاتر

عرشه،

زما نړۍ

که د سپیدو د سپیدارو

پر پانړیژ

د تورې شپې تورې جامې

اغوستې،

خو،

نانجباغ مې

د سهار د څرېکې

دزړه پرخونه پلوشې

رالونې.

که مې ګلولې،

ارغوان

خپلې پرې جرړې،

زمولې څانګې

ژاړې

او چمنونه مې

دخپلو شنیلیو

د وږمو پر مړینه

بادوي خاورې

له ډیر ګرومه پرسر،

خو،

دلمر وړانګو ورته

خپله د مینې توده غیږ

پرانیستې

چې یې

دسرو او شنو خوبونو

غوارېدا لپاره

پر تورو وریځو

سرې لمبې بلې کړي!

څنځیر کلا ۹-۱۱-۱۳۹۲

**د تندي ليکې**

دغه څه کانې راوشوې،
ولې بيا راباندې څمکه اسمان اور شول؟
دهستۍ د پسرلي د سمسور بڼ د گلغوټيو
له ليمو مې
گلابي اوښکې څڅيږي
دنيستۍ د خمسور مني د اغزيو په لمن کې ؟
تور کارغان مې را ير غالي
ـ په بڼو کې د چوڼو ـ
پر سمسورو گلکڅونو ؟
تور ليوان د کاز راگډ يې
ـ په خرمنو کې د پسونو ـ
پرښيرازه شنه ورشو د ارمانونو ؟
دغه څه کاڼې را وشوې،
د پيرۍ د تور وحشت آسونه کاږي
ـ په تيرو تورو سومونو ـ
پر ټيپي ټيپي گوگل مې د لتاړې جغرافيا
د تندي ليکې؟
ځلاند لمر مې د برمونو ، پرتمونو د تاريخ
په توربدو دي،

دمهال د بربريت د بوږنوړې تورې تندرې

په شپاله کې ؟

دغه څه کانې راوشوې،

دا مسیح مسیح شیبې څوک یهودا

راځړوي

دبیلورۍ د مرګ پر دار مې ؟

څو به مینځمه په خپلو وینو

خپلې تویې وینې،

او له خپلو هډو پلو نه جوړ تابوت مې

لیږدومه په خپل لاس کینلي ګورته؟

دغه څه کانې راوشوې،

خدایه څه کانې راوشوې؟

جاوید مینه (نوتهیه )، ۲۲-۲-۱۹۹۳

## سترګې پر لار

ما خپلې سترګې وکرلې

په تګلوري کې ستا

په ادې اسره،

چې به راشنې شي

ستا د ناز خرام تر پلونو لاندې...

خو تا

ـ له بده مرغه ـ

کړ خپل تګوري بدل

او زه همغسې

ـ د پښوا په شانې ـ

درته یو مخ سترګې پر لار پاتې شوم !

جاوید مینه، ۲۵-۲-۱۹۹۳

**خوب و خیال**

ستاد خوا ږه خوا ږه اواز

د سندرېزو انګازو

پاسته وریښم مې

د بیوارو تلوسو سترې شیبې

رانغاړي.

* * *

ستا د خوږې خوږې خندا

د سرو ګلپاڼو د وږمونو وږمې

زما د مینې پر اغزان بستر راولوني هسې

د لمر زرینې وړانګې

او توره دربله مو میا یې درنګه د چوپې چوپیا

ـ لکه د غم جنازه ـ

وځي زما د زړه وران ویجاړ ښار ګوټې

له ویرژلو کوڅو

د تیرو هیرو نشت آباد د مړیستون

پرلوري....

* * *

نه چې په ویښه چیرې خوب وینم دا ،

یا دې رښتیا د مرور اداګانو

شین ښیراز پسرلي

زما د هیلو خزانزمولي

ګلغوټۍ راسپړي؟

نوتهیله.۲ـ۲ـ۱۹۹۳

**دبیلوریو شهید**

نورې دا ستا د ناتارونو کیسې

کوي درننبت زما د شعر د سپیره ذهن

پر ستومانو اوږو

نورې مې ستا د ویرځپلو، ویرژړلو

دزګیرویو څړیکې

ـ لکه د مینې سرود ـ

د ویر غزل پر وچو شونډو نڅیدلای نه شي؟

نورمې کوترې د نغمو

دانځورو پر وزرو.

* * *

ستاوینې وینې پرهرژلي پیغام

ـ په ټول لویوالي، حجم ـ

دچا ناچا تور غوږو غوږ ته

رسولای نه شي.

نورې مې ستا د بې سهاره اوږدې شپې

زړه بوږنونکې شیبې

د اند و واند تنه هنداره ځلولای نه شي.

نوره مې ستا د تاند لباندو بلهاریانو

د سرو وینو ځلا

د خیال د هسک د تبجن څنډ

شفق کیدلای نه شي.

* * *

نورې مې ستا د غرونو غرونو فریادو

انکازې

د الهامو خړه گومبز راغبر گولای نه شي،

نور مې دا ستا د اور و وینو ناورینو نو

نه شلیدونکې بهیر

ویجاړ د وتر د زمانې یاد ته سپارلانه شي.

* * *

ستا د نیمزالو ځلبلاندو گلغوټیو

مړځپن خوبونه

په گونکه ژبه د احساس نغمه کیدلای نه شي

او نوره ستا د اومو غوښو او پولادو د ویلوب

پر له پسې غمیزه

د قافیې ردیف و وزن

په لنډ تنګ قالب کې نه شي راتلای ...

* * *

هو ،

نوره ستا تورو باروتو سرو لمبو سوې الوې ښېره

ـ له ورو ستنيو مړو سلګيو سره ـ

په زخمي ګوتو د هنر انځورو لای نه شم ،

توره وختونو د وينا دغه اورينه ژبه

ده راګنډلي په تالو پورې

پټليزه هسې

او دغه ستا د شهادت د سپېڅلتيا اوبجه

نوره اوښتې د مهال و چاپيريال

او کچ و مېچ له زغمه ...

* * *

وبښه ما ،

وبښه ما ...

دخپلو وينو په کفن کې رانغاړلي

نيمه خوا شهيده ،

يه د تاريخ د بېلوريو ځارځپلی

بېنوا شهيده !!؟

پېښور ، ۲۷ـ۲ـ۱۹۹۳

تور وحشت بلهارې ناهيدې ته:

## د بلهارۍ اسطوره

-۱-

يه د يادونو په ښېرازه شنه ورشو کې
ټوکيدلې غوړګې،
يه د تلپاتې خاطرو په سره ګلبڼ کې
غوړيدلې غوټۍ !
يه پلوشينې ((زهرې))،
يه د ښکلا مينې د هسک ناوکۍ !
ته لکه روڼ ځلاند شهاب شوې
د پېړۍ د ګورو ګورو تورو شپو
د زړه چاودون لپاره
او سره لمبه شوې د ننګينې هستۍ درمند لره !

-۲-

څه که ته ولاړې
د سپيڅلي سباوون د نارنجباغ پر ګليون،
خو تللپاره دې تور داغ د نفرينونو
پر تنديو د تور مخو ما ښاميانو پرېښووه...
تا دويرژلو ماتو زړو د ارم ښار
ډښاپيرو د يرغمل په نامه
-د پتمن يون په بيه-

دخپل بې کچه پېغلتوب گرانبيه پسول وژغوره

دتور مهال تورو ديوانو له تيارو تورو منگولو ځنې

او له سروبه د څڅواکو دې د خپلو وينو

تک سره خالونه د وياړونو او برمونو

پربار رخوانو د همزولو کېښوول !

-٣-

ته مو رښتيا د تت سبا پر مخ

هماغه رڼه ستر گه شولې

چې د سپېڅلي پاک ايمان د رڼا يې پيغام دې

زموږ د سترو ټکنيو تکلو د قافلو په پښو کې

يو ځلې بيا متره د يون پيدا کړه !

تا سره راکښل د بري - ماتې ترمنځ

دواټونو غځيدلي مزي

او د بې مرگه جاويداني هستۍ

تر مرگاني بريدونو واوښتلي !

-٤-

ته پر وزرو د برم پر تم د براق

-لکه د پاک رسول د خداي مېلمنه-

هسکه تر عرش معلي والوتې

اوستا د پت او د ناموس هغه تورمخي دښنه،

- جوړ د هاروت او د ماروت،

دآبیلارو پرښتو په شانې-

پر دې جهان د جهنم لړونې،

دګناهونو د بابل په دوزخي کوهي کې

ـ ترلوی محشر د تاریخ ـ

له خپلو ژبو ځړېدلي پاتې

ـ ۵ ـ

ته د هماغې یوې موهومې «آزادۍ» بلهاري

چې ستا «همنامه» یې «اتله»

د ورکلارو پاتکیوال د بوللو شوله

او اوس غولوي هسې په دې ځانونه

چې ګوندي دغه د تاریخ مختوري

ستا د ناموس وپت بلوسنې په نوم،

ستا او د هغې له مومن ولسه

غچ د «کافرو ملحدینو» واخلي (!)

ـ ۶ ـ

هو،

ودانګل تا د دې پزړۍ له شدادي برجونو

دنمرودانو د پرغزلمبو ته...

ځکه تا نه غوښتل چې

کېږدې سجده د بنده ګۍ یې

دهوس بوت لره!

تا په دې نیت ونمات

دمرگ و ژوند تر منځه پر ېکړه وکړه

چې د «ماښیو» د تور غورځو غوړته

د اورو وینو د ویرژلو فریاد ورسوې!

-۷-

یه د ښېرازه پېغلستان د پسرلي د جنتونو

پاکلمنې حورې،

یه د مېړانې، سرښندنې، بلهارۍ اسطورې!
ته دې پر خپلې ښادنامې باندې ایمان ولره

چې د ویرژلې، ارمانژلې زړه روستۍ درزا دې

شي د تلپاتې، تلژوندیو ترانو انگازې

په شنه گومبز کې د تاریخ د ذهن!

-۸-

روستۍ سلگۍ دې پر پېغلوټو شونډو

زموږ د سوې ستې، وران ویجاړ ښار گوټې

په بې سا پړوکې

-لکه مسیح-

له سره سا پوکړي بیا،

د تور وحشت و بربریت

د زړو جرړو د ایستنې په پار!!؟

کابل. ۲۸-۱-۱۳۷۲

## د اروااوو ښار

پر وران ښار د ښاپېرو د ارم راغلم

ښار دي چېرې ؟

يو هسې بوږنوړې هديره ده

د شهيدو اروا ګانو ،

لالهاندې اخوا دېخوا

په لټون د خپلو ورکو پاتمرو

د نېستۍ د کنډوالو په تورو خاورو او ايرو کې.

*          *          *

ما ليدلی خو يو وخت وو

دغه ښار ډک له خوښيو

تاند ښېراز په شنيليو د ښکلا وو

او سمسور په سرو ګلونو د موسکاوو ...

*          *          *

دا پرې څه ناتار راپېښ شو؟

دا پرې څه چارې راوشوې ،

چې په هسې ګلورين ښکلي موسم کې

کومو شومو خزانې توندو سيليو

کړې ورزمولې ګلغوټۍ د ارمانونو ،

تنکۍ غوړګې د شيبو د تکلونو ؟

*　　　　*　　　　*

له کوم لوري را اوږده شول تور لاسونه

د وحشت د گور ځنگله له تورتمونو ...

چې يې ساوې ومروړلې

په مريو کې د تاندو را زرغونو پسرليو ؟

چې يې وينې کړې وروچې

په رگونو کې د دنگو ونو د هستيو؟

*　　　　*　　　　*

وي تر څو به دا اروا وې ،

دا دمړو گرځنده سيوري

خپلو مړزگو پسې هسې لولنگره؟

کله مخ ته شي د شوبلو چلوونکو ،

کله تمې شي بهير ته د ټوپکو ، توغنديو ليږدوونکو ...

گوندې پوښتې په سرو سترگو او مات مخ ترې

خوگلنونه د ستې سوو هډونو

چې همدوي ورسو ځولي

په نامه د غچ د مينې د باغچو د يرغلگرو !

*　　　　*　　　　*

دغه بيا تاريخ راغبرگ شو؟

يا وهي هسې ملنډې

د جنگ ، جهل و جنايت پر استازگرو ،

پر دښنو د سباوون د سپېڅلتیاوو ...

پر دې هسې خبیثه تورو ارواوو ،

له اخوانه د تیارو تورو پېریو !

کابل.۱ـ۲ـ۱۳۷۲

## ته هم تېر شوې پسرلیه

ته هم تېر شوې پسرلیه !

هسې خوشې

بې گلونو ،

بې رنگونو ،

بې موسکاوو ،

ـ بې نغمو او بې ورېمو

او بې ورېمونو ،

په لوگیو ، تورو لړو

په سرو وینو او لمبو کې ...

نه د تورو شنډو وریځو د لورا د باران څاڅکي

د باور پر جلوهلي ډاگ راتوی شول،

نه له ترږي تبجن ذهن یې د پانرېڅو گلبڼونو

د وچوبي اندیښمن خوبونه یوړل !

*　　*　　*

بې له دې چې تر شا پرېږدي

تاند ښېراز شنه چمنونه،

شنې لمنې ، شنې ورشووې،

لاژوردي شينکی بېدياوې او لاښونه

د سرو گلو گلکخونه...

وينې پرنډې په رگو کې د گلپاڼو،

نغمې مړاوې په مريو کې د چوڼو.

پر دفتر مې د زمان ورځنې پاڼې

تاليکلې،

نالوستلې

ترمې ترمې رژېدلې زمولې پاڼې

د ربديو،

دا په سرو وينو کښل شوې

وير ژړلې برخيلکونه

د پيغلوټو ځوانيمرگو گلغوټيو،

دبلهارو تاند لبامړ شينيليو.

* * *

هسې تېر شولې او ولاړې،

ته به وايې،

هېڅ راغلي نه وې...

درنه پاتې هسې نقش د تشو سيورو

د شمشاد او د سبرونو،

راپرېوتی چې په پښو د تور ځنګله کې

د هستۍ له هسکه ستونځه

د نېستۍ پر تورو خاورو.

*　　*　　*

هو،

ته ولاړې

او تر شا دې

شول را پاتې د تودو تورو سیلیو

د پښو پلونه

د شیبو د پرهرونو په کوځو کې...

خو لا تاند په پسرلي د امیدو دي

د تالا والا باغچو د ارمانونو په ګوګل کې

چې په تا پسې به تېر شي

ټول ویرژلي موسمونه هم همداسې

ژر تر ژره

او د ژغور ماته بېړۍ به

د نانډولو برخلیکونو

بیا هم ښکل کړي وچې شونډې

دژغورتیا د ګلګښو د خوګلنونو...

ته هم تېر شوې پسرلیه،

ته هم تېر شوې پسرليه !

کابل ، ۲۴ـ ۳ـ ۱۳۷۲ل

پروېش شاهين ته ډالۍ:

**د سوما وږي**

ـ۱ـ

رابهېږه ،

رابهېږه ...

له تېر هېر برم و پر تمه « سواتسوه » ،

دبرميالې ګندارا د « اوديانا» ښپانده سينده !

تلبهاندې دې نغمې د ښرخوبيو ،

دښپو پر مرمرينو رڼوبيو !

ـ۲ـ

رانڼېږه،

رابهېږه

د « ګبرال» او « پلوګا» د کلکو پرښو له ګوګله...

له خوښيه،

له مستيه

« سروهه پر سنګرونو » !

خپروه دي انګازې د شور و زوږ د ګوربهيو

له شمشاد او له خيبره

تر ايلمه

له کابل و اباسينه

تر جيلمه !

ـ۳ـ

پرې ،

راووري

څاڅکي څاڅکي رڼې پرخې

پر ګلونو ، ګلکڅونو

شنو ښېرازو شنيليو

ستا له مستو سندريزو ځړوبيو ...

چې ((ښکلونکې د پسرلي )) دي

ـ له ډيروياږ ـ

غوړولي په بهير کې هر کلي ته

او وربې يې د عطرونو د موسکاوو

ناځې ستا د سپېڅلتياوو

پر ځلاندو ژوند ببناندو ننوبيو !

ـ۴ـ

ننداري ته دې را درومي

ښا پیرۍ له چین ماچینه،

لا په یاد د «جلالا» دې

هر سهار و مازیګر پر ګودرونو

«نو آغلیه پیغلې کاندې اتڼونه» ،

او پښو ښکل ته راکښوځي دې له هسکه

وږمکۍ د ښوار لسمې

ـ د سوما وږې په لاس کې !

خو،

یه مست څپانده سینده،

پر تمینه سپینه روده !

ما ته بربښي لا هغسې

دغه ستا د تندې ګونځې

ویرژړلي انځورونه

د آتیرو ناورینونو،

د ناپایو ناتارونو ...

ـ ۲ ـ

راته ووایه همدومره:

آشبه چې راوتلې

د واورینو دنګو غرونو

له ناوونو ګړنګونو،

ـ له پامیرو هندوکښه

تر راسا، کسي، سپین غره ـ

ترې د تورو ګورو وریځو تور شپولونه،

پېښولونه...

بلېږد بدلي ول که نه ؟

او تور مخي، تور مښوکي درنګه خور ورسره یو ځای

پر ستنه بیرته ناچېرې نشت اباد ته

لېږد بدلي ول که نه !!؟

مینګوره ـ سوات. ۱ـ ۲ـ ۱۹۹۳ز

## دعطرو نڅا

ما دمينې سرودونه

ستا دسترگو له پيغلو ټو مکيزونو سره

پيل کړل،

زغم د تورو تيارو شپو د بيلتانه مې

ـ په ارزو د سباوون د مسيدلو ستا د شونډو ـ

ستا د غيږې د گلبڼ له غوړيدلو څنې

زده کړ

او راکښون د ولولو د بيوستون مې

ستا د گلبدن د عطرو له نخانه شو

په برخه....

نو دا ځکه

لکه سيوري يو په بل کې

ترې تم شو،

اوپر زخم د باور د يو اوبل

لکه ملهم شو.

کابل. ۳-۳-۱۳۷۲

## یو بل موسم

پاتې تشتور زما د مینې کورګی
دا ستا د پلونو د ښکالو له شعره
- یه د چوپتیا د سپېڅلتیا د شنو شببو مېرمنې !
په ځلاری کې د زرغا ، باغ و باران و امید
سترګې پر لار یو بل موسم دی ولاړ
چې دا زما د تږي ذهن په پردو کې
په زرګونو خوبولې کیسې
ستا هر کلي ته ترانې شي ټولې
او پر بستر ستاد سورکیو شونډو
موسکا د مینې غځونې وکړي !!؟

کابل ، ۱ـ۴ـ۱۳۷۲

## ووریٔ ورُو ورُو ووَرو

ووریٔ
ورُو ورُو
خورَوُ ورَوُ ووَرُو
یو واري د هسک له شنو ورشو
وَورو !
ووروئ

ورتې ورتې اوښکې مو

دوير ويرژلې ځمکې

پر خورُو وَورو

ګونډې مو د اوښکو سپينو واورو

له اوريا

وَورو !

اور و وينې وولل شي

د وير ويرنې وېرې له وربوی

ورُو ورُو !

وورئ

ورُو ورُو

وَوور !

وورئ

ورُو ورُو

خورو وَرو

وَورو !

جلالکوټ، ۹۳-۸-۱۰ز

## د تېل خوب

پر وربښمین پالنګ د پاسه

د خوږو خوږو يادونو ،

د خوږو خوږو خوبونو

خوبولي.

هلته ګورم

چې بهير د شازلیمو

-په ورغوو کې سرونه-

په تلوار ، په منډو منډو ،

انګازې د شوروزوږيې د «آچاري»

لړزوي د «بير مېنګهم» د ماڼۍ ستنې ...

هر کلي ته يې رادرومي

ښايسته پېغلې ملالې

ډلې ډلې.

هلته ګورم

چې د مرګ تر پولې اوړي

ګوربتان د اسما نڅکو هسکو غرونو

او بيوار ورغوته کيږي

بې امانه

د بلو سګرو پر ګاګرينو ،

نالاسبرو سنګرونو.

هلته ګورم

چې له ورایه په رپا دي

سره رپي د ویاړو سوبې

پاس پر څلو د ډبنو د ککریو،

او د ژغور د بري بر مستو نغمو ته

ژبې جونه کړي له میني اتڼونه،

د لمرینو پلوشو په مسته وراکې

کورا کور ویشي خوښۍ د ننګ میړانې...

څو،

سهار مهال راویښ شوم

له خوږو خوږو خوبونو

په نارو د مزدکود تکبیرونو،

بدلول یې چې اړخونه

له شور زوږ سره

د «لیفټ ورایټ» بولیو

چې راته

له هغو کروړو نالاسبرو بورجلونو...

خو،

زه زانګم لا هغسې د خیالونو په زانګو کې

او خپل ځان مې غولوم په تېرو هېرو

چې لا کښته پورته کېږي مې د ذهن په کوڅو کې !

ټل، ۲۷ـ۸ـ۱۹۹۳

**شپېنۍ اوښکې**

ستا د ګلونې د سيوري عطر
لکه د رېوب د شپېنيو اوښکو
پر ويرلړلو شپېو راووري
او ورپرېمنځي تور تېپې ليکې
د ګناهونو

***

که ځواک د ژغور دې
د پاکې مينې له متېو وتي
خو،
ستا د ستونې له نغمه زاره
دلمر نغمې په راټوکيدو دي.

***

زه په لټون لا د سپين سبا
د تللي کاروان يم
ستا د غړلو زرغونو سترګو
په کړلېچو کې
چې توري خاورې نورې په خوله کړم

دتور تمونو

او ونغاړمه تر ورستي بريده

د بري لاره د لمر تر کلي !

پېښور ، ۲۹ـ۸ـ۱۹۹۳

**بېگناه بلهاري**

راشه

چې ستا د هغو تېرو پېرزوينو

د سرود جنازه

زما د شونډو د سپېرې وچې بېديا

له ذهنه لېرې دي نوره.

*　　　　*　　　　*

راشه

چې ستا د سبروني سيورې

زما د ميني له درشله نوره پښه نيولې

او زه لا هسې په غرمو د بېلتانه کې سوځم.

*　　　　*　　　　*

راشه يو ځل

زما د غيرې خزان زمولي بڼ ته

د تلنبيرازه پسرلي د غوړېدو زېري شه

چې ستا د گل بند له عطرو مې تشتور دی

د خوبونو بستر.

*　　　*　　　*

راشه یو ځل

چې بې له تا مې د نیمزالو شنو شپېو پر ورشو

د ناتارونو سرې سپرغۍ راووري

او ما په لټه د خپل ورک برخلیک

نیولې باد ته تشه ځولۍ.

*　　　*　　　*

راشه یو ځل

راشه یو ځل...

ترهغه مخکې چې زما پر ایره شوو هډو پلو

د تیرو خلې جوړ شي

او ویر ژړلې سوې ساندې مې بیا بولې

پرزباد شوې بېګناه بلهارۍ !

اکوړی ، ۲ـ۱۰ـ۹۳

## ژغور بیړۍ

په دړې وړې بیړۍ !

مه کړه پروا ،

که د بیړۍ سمندري غلويې ترونبلې

له ماڼو او له سپرليو سره

او د وحشت بوږن په توره شپه کې

يې ګډه کړې بې ګودره

توپاني ځپو ته.

* * *

مه کړه پروا ،

که د تورتم او مرګ استازو يې

سپارلې مرګځپاڼو ځپانونو ته او

ستا د بلوسلې بر خليک پر يکړه يې

پرې ايښې خونړيو نهنګانو لره.

* * *

مه کړه پروا ،

چې د پيسو او د وسلو مرييا ن دې

دراکړې ورکړې،

پيرو و پلور پر بندرو ګرځوي

او غواړي ور دې کړي

دورځي تر نرخ هم ارزانه !

*　　　*　　　*

مه کړه پروا ،

چې به همداسې یې راښکېله په ولکه کې

د بلوسګرو پاتې

او د تیارو ـ وینو توپان به دې

تګلوري تاکي ...

او داده اوسه

ژغور بیړۍ در رسیدونکې ده ژر

چې دې وژغوري له حتمي ډوبیدو

او شي لارښوده دې بیا هله

د سپیدو تاپو ته

د سباوون د رڼو بیو مرجاني ساحل ته !

پېښور ۹ـ۱۰ـ۱۹۹۳

**دمينې کور**

ستا دنګه ونه

د سپرلي د ښزرازيو

د پايښت نښه وه،

ولاړې او بې به له تانه

ولمبل باغ په خپلو سرو وينو کې.

ستا دنګه ونه

دباران د وربډو زيري وو ،

ولاړې او بې له تانه

پر شونډو وچ شو

دخنداوو فصل.

ستا دنګه ونه

دزرغا او سمسور تيا

پلمه وه،

ولاړې او بې له تانه

ځنګله له خپلې ورشو

کډه وکړه.

ستا دنګه ونه

د تاکونو د باور هيله وه ،

ولاړې او بې له تانه

پر میکدو شوه

وچکالي واکمنه.

ستا د نګه ونه

دمنزل د لارويو

د دمې سيورى وو ،

ولاړې او بې له تانه

بېديا پر سر خول

داغزيو کېښووه.

ستا دنګه ونه

د لويې او سر لوړې

ځلې وو ،

ولاړې او ستا د ناسوبتيا

له پرتم،

دغرو په زړو کې

انګازې سرې شوې.

ستا دنګه ونه

د سپېدو د سپيدارو

پرخه وه،

ولاړې او ستا په وير کې ،

ووته ورځ د زماني

له ياده.

ستا دنګه ونه

پيستون وو

د مينو زړونو،

ولاړې او ستا په ښېلتانه کې

مو نور

د مينې ګډ لرغوني کور

ونړېد

پېښور ۱۲-۱۱-۱۹۹۳

د ډېورنډ د شومې کرښې سلکيزه

## ته مې په زړه کې يې تل

ته مې په زړه کې يې تل

لکه زرغا د پسرلي په ذهن کې

او وريځ په سوچ کې

د تبجنې جلوهلې دښتې.

ته مې په زړه کې يې تل

لکه رڼوب د سپیدو ،

په زړه چاودون کې د شپې

او هسک د ستورو او سپوږمۍ ځلا کې.

ته مې په زړه کې یې تل

لکه د پرخې په هنداره کې

ځېره د ورځې

او تکه سپینه مرغلره

د سیپۍ په زړه کې.

ته مې په زړه کې یې تل

لکه بیابان د برېبوکو په غبېږ کې

او باد د درګو په خیالي نڅا کې

ته مې په زړه کې یې تل

لکه د سیوري په رغبنت کې رڼا

او په ګلپاڼو کې د ګلو وږم.

ته مې په زړه کې یې تل

لکه تاکونه

په تعبیر کې

د میګونو شونډو

او بوږنوونکې چوپتیا ،

د سبرونو په مرګ.

ته مې په زړه کې یې تل

لکه پر وخت د مخه ښې

ـ له ناکام ـ

سترګو کې ډنډې اوښکې

او وېره تراه او بوږن

په جنګ ښکېللي ښارکې.

ته مې په زړه کې يې تل

لکه بار خو کې دې

سپرغۍ د ښايست

او په لیمو کې دې

راکښون د مینې !

پېښور ۹ـ۱ـ۱۹۹۴

**ستا د راتللو عطر**

کړم ترمې ترمې

پانړېژو د واټنونو

ځکه

چې نه راځې

ستا د موسکاوو

د سپرلیو وږمې !

****

ګورم په غتېو غتېو

چې راکېکاږي

دزغم زمولې اوږي،

د تورو دربلو ويښو شپو جنازې...

او زه يم ناست

د رانه سپين سباوون هسک ته

د معراج په هيله

له رڼوبيو د سپېدو

ستا دخيال

رنګين رنګين

وربښمين ټالونه پېږم.

****

ګوندې

که راشې

ته يو ځلې ګلې

زما د زمولو ګلغوټيو

بڼ ته !

چې دغه ستا

د بيا راتللو عطر

کړي را پوځلا

ها له ما تللي

مروري ګلورينې شبې ،

هغه خوږې او پرتمينې شېبې !

پېښور ۵-۲-۱۹۹۴

## پړقېږې ژلي نارنج گل

تاريخ کاږي

څه کږي وږي

تور تيږې شانې ليکې

د سپين غر پر سپينه تنده

چې بلهارې گلغوټۍ يې

تيروي روستۍ شېبې د نامراديو

په لمن کې.

*        *        *

د زمو للي پسرلي پر اننگيو

رابهاند سروب د وينو

د ناسورو پر هرو

د نارنج گلو.

*        *        *

څه سوړ تورېم رالنبېږي

د منبککو او لونگو له ډاگونو

د شهيدو پر نډو وينو

پر اوږو د توپانې،

توندو سیلیو.

*　　　*　　　*

دا به کله سر راهسک کړي

له دې بورې او بدنامې

شنډې ځمکې...

کومه هسکه شنه بنیرازه سبرونه،

زیریګره د موسکا

د ناوکیو ګلغوټیو

په ورشو کې

د بې مرګه،

بې پانړیژو،

تل سمسورو پسرلیو؟

ده افغانان، ۱۶ـ ۱ـ ۷۳

**سیوري**

ـ۱ـ

کله چې تاند شنې شیبې د پسرلي

ـ لکه لمریني وړانګې ـ

کوي له باغ سره

روستۍ مخه ښه،

کله چې شمه

په زانګو کې د شپې

ـلکه ویرژلي نغمه ،

للو للو پر شونډو

رسوي خپلي وروستنۍ سلګۍ

د مرګ کومي ته ،

کله چي شپول کي د ترورمۍ

تندر نیولي سپورمۍ

خپله نیمه زاله تته تته رڼا

ـلکه دعاـ

د بېوزلیو پر جونګړو لوني،

کله چي توري شني لوخړي

د باروتو سرپو

ـلکه د وریځي چترـ

کړي د سبا پر مخ

وازره راخپاره

او کړي پناه

زما د سترګو له ورشو نه

د ښکلاوو باغچي...

نو ،

بیا شي

ستا د اننګیو خړیکي

ـ لکه سرود د سپیڅلتیا د مزدک ـ

د تلښېر ازو امیدونو زېري !

ـ ۲ ـ

چې جلوهلې ببېدیاني ګلونه

ـ آتر مې ترمې پانې پانې رېدي ـ

د خزاني توندو سیلیو

په اغزنه غېږ کې

ساورکوي.

چې د سپېدو د سپېدارو

شنې ټوکېدلې مونګرې

ـ هغه د بوبې سپیڅلتیا ناوکې ـ

دوېرې بوږن ګېنې ونیسي،

چې بوږنېدلې غرونه

ـ د ماښامیو د فریاد په ژبه ـ

دایره شوي ښار ویرنې بولي ،

چې د ذهن د اسمان

په رنجنې کوڅو کې

پر غربو نیولو اندېښنو باندې

ناتار راګډ شي

او وَروم یې پر خوګلن

دوير ژړلو سرې سرامنې اوښکې...

نو ،

ته راکښېوځې د ښکلا د ښاخ پرتم

له اسمان

ـلکه د ژغور پرښته ـ

زما د ژوبل زخمي زړه

دپوړا یېني په پار !

ـ۳ـ

چې نېز د اورو وینو

د رنګینیو ګلګخونه ګوابنې

توندې سیلۍ

پر تورو خاورو سپاري ،

چې بې توپیره

بې پروا

راکښل شي

برخلیک د مینې د ویلوب پر سینه

او رایرغالي د ښایست پرچم مې

تورې منګولې

درنګه خور د مهال،

چې مې د پت، نوم و ننګ ښاد نامې

لوخړه کېږي

دنغرونکي تور ښامار په خوله کې

او د تلپاتې برم و ویاړ اسطورې
نورې وللکېږي
چې رابلوسي سمندري غله د وخت
بربې ګودره لاهو شوې
دړې وړبيږي
او زه رابنکېل
ـ لکه بېوسه مرغه ـ
په مرګځپاڼو توپاني ځپو کې...
نو،
بیا دا ستا د مرور خنداګانو عطر
کاندې رالنډ
د واټنو نو
لرې لرې غځېدلي مزي
او سره ګډ مو
یوله بل
د خواخوږۍ سيوري شي !
پېښور ۲۴ـ۵ـ۱۹۹۴

**سینډ او سپوږمۍ**

څه ښایېښته
رنګینه شپه
د څوار لسمې ،

څه خوږبویه

سپرلني وږمه

چلیږي !

د «خیالي» پرغرڅپو

ببړی روانه،

وړي راوړي

د ګلکځونو

پیغامونه...

اوزه بوخت

په ننداره

د هسک د پیغلې

چې ببېبا که

بې پروا

ـ لوڅه بربنډه ـ

په رڼوب

د ځپاند سیند کې ،

کړي لمبا په مینه مینه.

مروزی، ۲۴/۲۵ ـ ۹۴ـ ۵

**ستا په زړه او ذهن کې**

که تېرې هېرې خاطرې

ـ لکه تلپاتې نا تار ـ

په تل کې،

بیا غځوني کوي

او د دردونو

غرونه غرونه پېټي

ـ لکه رسوب د ناسور شوو زخمو ـ

ستا د موسکاوو

پر نازکو اوږو

نور هم درنېږي پسې،

که را یرغالي دي

لا تور مابنامیان

تورو شپو،

تورو شپولو

له مورچو

د سباوون د دریځو

د ارمانژلو پلوشو پر تېولي

او د دنا کړو،

بې پناهو گناهو

په جرم

ـلکه ښکېللي مرغۍ ـ

کېږي د چا د خوبېدلو هوسو

بلهاري...

خو ،

دباور پر ښېرازۍ زما

ایمان ولره

چې ما تل ستا

دډاډ بیني په پار

ـلکه زمولي ترمې ترمي رژېدلي ونه،

چې د خپل سیوري پر مرګ

ویني ژاړي-

په بدرګه همستا د خیال د شعر ،

په زړه او ذهن کې ستا

ځاي نیولی !!؟

پېښور، ۲۷ـ۵ـ۱۹۹۴

# دسپیدو لاسونه

مه شه،

چې لمر سترګی شي

او د سبا له قافلې سره يې

د سپينو مراندې

پرې شي.

***

مه شه،

چې نبار شي

دويرژلو نهيليو خوګلن

او د هستۍ پر خوله شي

تورې ايرې.

***

مه شه،

کړې هېر

د سپينو وريځو بهير

دبارانونو موسم

او په ميرو کې دغاټول

تاندې تاندې

غوړېدلي غوړګې

-پخوا له وخت-

کړي ترمې ترمې

منګني بادونه.

مه شه ،

رالنډ شي

د اسمان پر لورې

هسک غځېدلي

د سپېدو د سپېدارو

د ښاخ پرتم لاسونه،

او د خزان لوټلي باغ

په پښو کې

هسکې ولاړې

سبروني

پر سجده پرېوځي.

***

مه شه،

داوړ وینو او مرګ

پرله پسې غمیزه

دوير نتلو سرو شيبو

په غبر کې

همداسې شي پسې

ناپایه پاتې

او دا ویرژلی ویرژړلی

داستان

د دې نړۍ له ذهنه

ووځي نور !

پېښور، ۱۹۹۴-۶-۱۵

## ددعا لاسونه

هغه مهال

چې له پنجرې د شونډو

روستۍ نغمې دمینې کډه وکړه

او نور باور

د پسرلي د ښېرازۍ

پانریژ ته پرېښووه چمن ،

ته په رڼوب د اوښکو

وکښنه د مور ځمکې د زړه پرډېر لیک

دخړوبتیا اسطوره !

هغه مهال

چې مرورشول

له اسمانه ستوري

اوشوه د شپې کيسه

له بريد د سباوونه تېره ،

ته کړه بهير کې د کاروان

بلې ډيوې د سترګو !

هغه مهال

چې مياشتې وا چوه ټيکرى

پر ځانوژنې د لمر

او پرښتې

ـ سرله مابنام ـ

په درانه خوب د ناغېرۍ

ويدې شوې ،

ته کړه د خداي دربار ته هسک

ـ له ډېره نيازه ـ

د دعا لاسونه...

ګوندي

په خپل اسماني لور سره ،

کاندې کفن

په وينو سور سالو د ځمکې

بې اجله جلبل شويو لره !

پېښور ۱۴ـ۷ـ۱۹۹۴

**پاڼه**

پاڼې پل کېښوه

پر درشل د پسرلي دهستۍ ،

ـ په يو تړون کې

له شنې څانګې سره،

شنه له موسکا ،

ستورو سپوږمۍ،

سهار، سپېدو

لمر و وږمې،باران ته

په نڅا ګډه

له نغمو د ګلمينو بلبلا سره.

***

بس وه همدا

په واړه ذهن کې

د کوشنوټې پاڼې

د هست ونېست دخوب وخيال

ـ يوه رنګينه دنيا

ستوري ، سپوږمۍ، سهار، سپېدې ،

لمر و وږمه او باران،

پسرلي ، اوړي، شنيلي،

گل و بلبل ونغمې...

***

بیا خوارکۍ پاڼې

دا هم ولیدل

چې راتوله‌یږي

نور دوتر د زرغا

او په بهیر کې د پاڼرېژد باد یې

پر تندي لیک

دویرې تراه

زیږې زبېښلي شبېې...

او هله پوهه شوه

- په پښو کې د خپل باغ د ونو -

تالاترغۍ اوترمې ترمې

رژېدلې پاڼه

چې دا نړۍ

له خپلو ټولو رنګینیو سره

څومره لنډپاري

ننداره ده د ژوند !!؟

دور شخیله-سوات۲۳ـ۷ـ۱۹۹۴

## تلښېرازه و نه

ستا مينه وړي کاته

د اورنيو مکېزونو عطر

دا ستا ملاله خولگۍ

دگلوييونو غونچه

دا ستا ورېښمينه غېږه

دسترو سترو ارمانونو بستر

ستا خوبولی اواز

دسهارونو جادويي سندره

دا ستا د ونې سيوری

پلوشين ځری د لمر

ستازړه راښکونکې ښکالو

دواښونو پايله

ستانازولي پلونه

دمنزلونو زېري ...

هو ،

ته يې سر تر پايه

لاهمغسې تلښېرازه ونه

زما د مينې او باور

په رژېدلي بڼ کې !

پتهاني-سوات۲۴-۷-۱۹۹۴

## ستالاسونه

پرې !

چې دې ښکل کړم

دا لمرين لاسونه

ـ داد لمر خداې ته

په دعا هسک

د سپېدو د سپېدارو ښاخونه،

په لاسبرې کې

د ناپايه بورېنورې تورتم.

***

پرې !

چې دې ښکل کړم

مرمرين لاسونه

ـ دا د برخليک د شينکې باغ

پرلورې

نغښتې لارې،

د جلو هلو ځلوبود واکمنۍ په زړه کې.

***

پرې !

چې دې ښکل کړم

بلورين لاسونه،

ـ دا د پاکۍ او سپېڅلتیا اسطورې،

د شومه دم چوپې چوپیا

په دوزخي شېبو کې.

***

پرې !

چې دې ښکل کړم

گلورین لاسونه

ـ دا د لاهو ماتې بېړۍ پاروگان،

د مرگڅپانو څپانو

په توپاني څپو کې.

***

پرې !

چې دې ښکل کړم

دالورین لاسونه،

ـ دا پاکلمنې پیلامې د مینې،

د خپلو مستو سرغړاندو هوسونو

غېږ کې ،

***

پرې !

چې ښکل کړ

نازنین لاسونه،

ـ دغه د ژغورنده ثواب پربښتې،

د تور سربي او باروتي خوګلن

په سره عذاب کې.

* * *

پرې !

چې دې ښکل کړم

دا مهین لاسونه،

ـ دا د بې کچه ښځیوالي د حیا سکامونه،

ترپیڅول لاندې

د ترږو ګناهو کېږدی.

ګل کره ـ سوات، ۲۷ـ ۷ـ ۱۹۹۴

**د باد درشل**

تا په درشل کې د باد

پل کېښووه،

د توتکیو ښکالو،

سپینې نغمې پرېولې

په سرو وینو کې

او باورونه

د خادو، رسیو سوچ

واخېستل.

* * *

تا په درشل کې د باد

پل کېښووه،

شوې د باغونو په خولو

خاورې پورې

اوکړې تاکونو

خپلې یېبرې هیرې.

***

تا په درشل کې د باد

پل کېښووه ،

زانگو وي

سترې له تالیو شولې

او د قبرو تیونه

وچول

دشودو د پرندېدو له لاسه

***

تا په درشل کې د باد

پل کېښووه،

وربل دې یاد

ووراوه د وَورو،

دسوو سوو غنمگرو

پر زړو

او لوخو پښو دې کړې

راتاندې

سپرلنۍ خاطرې،

سپېرو خاورو

په زیلا نغ کې هله

***

تا په درشل کې د باد

پل کېښووه ،

مینه د تورو مابناموتو

اندېښنو وسوله

او د شوگیرو مږزگه خورو

سترگې

لکه اوروینې

سرې گولۍ ښکارېدې.

***

تا په درشل کې دباد

پل کېښووه ،

-یه داگنیو پرې !

او زما زړه

دوچ ځنگله

پر بوسۍ وسوځېد.

پټهاني-سوات،۲۸-۷-۱۹۹۴

## پر کور او گور

که شوې راپېښنه

پر ژوندونې

پر کور،

د سر په سترګو به دې

وکړم

هر کلي د مينې

او په بڼو به

درجارو کړم

دراتللو لارې.

-۲-

که شوې راپېښنه

پس له مړينې

پر ګور،

کړم

درډالۍ به

هغه سره ګلونه

چې ستا د مينې

دیادګار په توګه

راټوکېدلي وي

زما له خاورو !

پټهاني ـ سوات، ۱۹۹۴.۷.۲۹

**دشعر پر کور**

کله چې راورسي

تر ووره پورې

شي دې

بیا لاسونه

ددعا پرتم ،

سترګې دې

ویرنې بیا

د سوي ایره شوي ښار.

***

کله چې پل کېږدې

پر درشل د شپې،

شي دې

تورې زلفې

د سبا خېمې،

جوړ دې اننګې بیا

دلمر څرک

د نارنجباغ زېرى.

***

کله چې شپې را

وربوي

د مينې ته،

راوړي

روښنايي

تيارې جونګړې ته،

شي پټې

دلورو پېرزو بيا

زخمي زړګي لره.

***

کله چې

پرسوي

رنګ بورجل راشي،

خوله دې شي

ښېرا ښېرا

تورتم لره،

وروځې دې

اورپورې

دمهال پر تورو وريځو کړي

***

کله چې

راپېښه شي

پر کورد شعر،

سترګې دي

عروض او هم بیان

شونډې دي

له شونډو سره

شي همقافیه هله !

پتهاني ـ سوات،۳۰ـ۷ـ۱۹۹۴

**نابښونکې ګناه**

نوره ښکالو

ستا د راتلو

له ذهنه وتې د

د هغې خاورې

چې سجده ځای

زما د مینې ووتل

***

ماته سپېدې،

سباوون

مه یادوه

چې نوره ستا

د ګونګو ګونګو ګونګو سیو

دعا

زما پر زړه راوروي.

لا تورې شپې د نهیلیو

هسې.

ودې ستایم

په کومه ژبه لمره !

پر هغه ځمکه،

چې په اورو وینو سره ده

او د خاچوڼو

یا قوتي

سرې سرې دانې د اوښکو

دغنو غاړې ته

ډالۍ دامېل کېږي

نورې.

***

په څه دې ونوموم،

یه دربدیو دښتو !

چې د زرتشت د وینو سره مو

د گلپاڼو له رگونو څاڅي

او د مهال اهریمنان مو

د مزدا

پر اورتونو رابلوسي.

سترگې پر لارشم

څنگه پاتې

د پسرلي د هرکلي لپاره.

پر هغه سیمه

چې ده نوره

پکې مینه

یوه ستره نابښونکې گناه،

ترغرغرېد داره،

په کومو سترګو دې

راوبلمه،

دګلورینو کروندو مالیاره !

هغه تالا والا،

زموږ للي بڼ ته،

چې د هستۍ د مینې

ځاله ورته،

هسې د مېزګو یو کالبوت

ښکارېږي،

د باغ له وره

ترمړیستون د خزان،

د توپاني توندې سیلۍ

پر اوږو.

پېښور ۳۰-۷-۱۹۹۴

**دسبا شعر**

وريځې

د پسرلي په اند ښنه کې

ډوبې تللې دي،

نه چې

شنيلي

په نهيلۍ کې

له بارانه خپل لاس

پرېوي نور،

باغ له ښېرازۍ شي

لاس پر سر

يو مخ

او ځانګه

بې پانۍ کې

د سپېدو له سپېدارو

اړيکي وشلوي !

***

ښار دی وير نتلی

خوبولی

له ناتار د شپې،

نه چې

تند غري وچ ډاګونه

په ارمان کې د رېديو

تنده وزغمي ،

پورته د اسمان

د شنيلو پر لور

لاسونه

د سهار دعا ونه بولي

او لمر

په تلوسه کې د رڼا ورځې،

نور له مزلونو ځني

ستړې شي !

***

ګوندې،

له زيلانځ د زمانې

دژغور و ژوند ځلا راوزېږي

او ونغاړي تر پايه

امېدونه

داورووينو د بر خليک

هغه ناپايه خونړی دوتر،

نه ليکي چې شعر

دراتللو

دلمرین سبا.

پېښاني ـ سوات ۳۱ـ ۷ ـ ۱۹۹۴

د میرویس جلیل پر شهادت:

**روستی چونې**

**روستۍ نغمه**

هغوي

په ټوله تور زړه

زما د بڼ د روستي چونې

مرۍ ومروړله...

او

په خپل ټول وحشت یې ،

روستۍ نغمه د ژوندانه

ورځنې و تروړله.

پېښور، ۴ ـ ۸ ـ ۱۹۹۴

**فال**

هغه مهال

چې ښېدياني ګلونه،

په خزاني چوپتيا کې

ساورکوي

او غر

د ښار د زړه تنګۍ

کيسې کړي،

زه

ستا د سترګو په ورشو کې وينم

فال د سبا

*

هغه مهال

چې ژمی کېږدي

پر درشل باندې پل

او مرګ شي هم

پرلپسې داستان

د خاورو په سپېرو خونو کې...

زه

ستا د تن په تودوخۍ کې وينم

فال د نړۍ

هغه مهال

چې د برخليک غمی شي ورک

په انبارو سلګو کې

او د سکلا د شعر دنګه ونه ،

خپل سيوري با يلي

په لوټ شوي بڼ کې،

زه

ستا په سرو سپينو لاسو کې وينم

فال د دعا.

*

کله چې

چو په چوپتيا ،

شي په هېنداره د سهار کې

د درواغو ټولمنلی انځور

او شي چرګبانګ

درنا ورځې د راتلو

يو زهرژلی انکار ،

زه

ستا د شوندو د خندونو

په سورکي کې وينم

فال د اواز

باره ګلی، ۲۱ ـ ۸ ـ۱۹۹۴

**د کلیزې پیلیځ**

بویه

ستا غبرګ لاسونه

زما د مینې د حرم

دوې مرمرینې ستنې

دا ستا د وروځو محراب

ـ په سپیڅلتیا د ابراهیم د مقام،

زما د نمځ او د نما نځنې کعبه،

زما د پاکو ارمانونو قبله.

***

ستا شپه رونلې سترګې ،

زما د هجر په تورتمه شپه کې،

بلې بلیندې دیثربې قافلې.

پربړده !

رانجه کړم خپلو سرو لېمو ته

ستا د ښایست د پاک حرم

هغه سپېڅلې خاورې

په دې اسره چې

سرترپای

ستا دلیدو د نذراني جوګه شي

او د هجرت دا لومړنی سباوون

شي زما ستا

سپېڅلي عشق

دبري سوبې

دکلیزي پیلیځ !

پېښور، ۵ ـ ۹ ـ ۱۹۹۴

**ستا یون**

ـ۱ـ

ستا ګورو ګورو ،

تورو تورو زلفو،

ـ د سپین سبا د غوړېدو په هیله ـ

زما د اوښکو د څڅواکو ترنم

انځوره،

د یوې بېساري تورې شپې

په زړه کې.

ـ۲ـ

هغه وخت ولاړ

زما نې له یاده

چې د برخلیک سترګې مې

وې د سپېڅلي پاکې مینې

برم ته

لکه سپېدې د سبا وون هېنداري.

-۳-

اوس،

له یانه سره ستا

زه وینو وینو شپبو

-لکه نیمزاله تته وړمی-

کړمه د بډو په کوهي کې بندي.

پېښور،۹۴-۱۱-۱۴

## بلوسلی ښار

که د پسرلي سینګاروونکې وږمې،

-چېرې په تېر کې

راخپاره کړه وازره،

د ساړه ژمي کنګل زمولو بنجرو

پرسیمه

او ستا د سپور خپاره وربل

خبر يي وا خېست کله

ورته به تېره کړې کیسه

دلوټ تالان د مینه وړو شپبو ،

دنبېرازۍ په تش نامه موسم کې

ترګوښي پاتې سوزېدلي ګلبڼ

له ستي ځالو د خاچونو سره ،

تر وچ زيلا نځو

بې بارانه وريځو ،

د جلوهلو بيابانو

تر نا پای بريدي ګوښوالي پورې.

*** *** ***

کلونه وشول

زما ببوزلې ځورېدلې مينې،

د سوو څرېکو د بيان ژبه

ورکړې له لاس...

له ګلو ييونو تش دوتر د شعر مې

د ناز ښکلا له انځورونو څنې،

د ګلورينو خنداګانو له عطرونو څنې.

*** *** ***

کلونه وشول،

چې مې سپرليو رنګ و بوي

د ګلکځو با يللي

او ساړه توږم يې

د پرنده و وينو ،

رانه ورمې د چمبېلو لوتلې...

هر خوا پر غرو رغونو ،

ـ دارغوانو ، سرو رېديو پر ځای ـ

داورو وينو سور سالو

راخپور دي

او د ځانګغو خو بلبلانو ژبې

نه بولي نورې د ګلونو د موسم سندرې

او وزر ماتې توتکۍ ،

الوتای نه شي

تر مزد که د لمر.

***        ***        ***

کلونه وشول

چې ناتار رازېږي

له سر درو د غرونو غرونو

فريادونو ځنې ،

د پر غزونو او بوړنونو

له ډاګونو ځنې

د وحشتونو د ځنګلو له کومې ،

د سوو ساندو او زګيروو

له باندېو

د سرو لمبو او شنو لوخړو

له بلوسلي ښاره.

ننګرهار،۱-۱-۱۳۷۴ل

## د باران انځور

ستا د اوازله مخملي سر درو

راځي ښکالو د ویر ژړلو خاطرو

ترغوږه

لا پر هرژلي زخمي ښار مې

پر بستر د اورو وینو

غځوني کوي

او پري چلېږي واکمني

دنشت آباد د لارویو هسې

خو ،

ستا کوځې لا د باران زمزمه

په تورتمو د تورې شپې کې

لکه خوب د سباوون

انځوري،

او،

زه بیا هم لا پسې نغارم،

اوږدي کړي

لارې او رَودې پرمخ

په دغه داړ و هیله

چې دي ولاړ

د هر بري ترشا مې

ستا مينه وړي مکېزونه

همېش.

کابل-کارمېنه(قصبه)، ۹۵-۷-۴ز

**د باران سرود**

که شوې شېبې د ببلتانه دي

پر کلو بدلې،

زه دې لا څارم

اوربدې لارې د راتللو هسې

او کړم کيسې د تورو څڅو دي

تورتمو شپو ته.

** ** **

پرې !

دلمر څاڅکو په وربښمين تال کې دي

وزنګوم د ګلاب مخ

شوګير وهلې پرخې

او له نژدې

په غړولو سترګو

وګورې چې

څومره په لوړو خوا خوږې دې

باران بولي

درا تللو سرود.

سوات، ۲۰ـ۸ـ۱۹۹۵

**زخمي يادونه**

دا کوم ياد د کومې پېښې

د کوم وخت دی

چې مې نه راځي د ذهن ،

دوران کلي په کوڅو کې ،

او د زړه پر ښار مې هسې

را يرغالي...

* * *        * * *

نن څه شان يوه ويرژلې ،

زهرژلې ترخه ورځ ده،

نه پوهيږم،

د کوم ياد پر کوڅه سرشم

ته به وايې

دباران د سترو څاڅکو په ملتيا کې

دخدايګوټو د پرغزقهر

سکروټي راوربړي.

* * *      * * *

نن څه شان يوه ويرژلې ،

زهرژلې ترخه ورځ ده

بوږنوړې توپاني توندې سيلۍ بيا

د تالا ترغۍ زموللي بڼ د ذهن

په ورشو کې

تاندوي د تېرو هېرو نمردانو

دوحشت بوږن يادونه.

* * *      * * *

نن څه شان يوه ويرژلې ،

زهرژلې ترخه ورځ ده

بيا د زړه ځانګغوځ بلبل مې

د ګوګل په پنجره کې

ترهېدلی بوږنېدلی

غوندې ښکاري

راخپاره پرې تبجن سيوري،

دوحشي تورو ارواوو.

* * *      * * *

نن څه شان يوه ويرژلې ،

زهرژلې ترخه ورځ ده

نه پوهېږم ،

داغمجنې اندېښنې مې ،

کومې لورې ته وربولې...

نه چې بيا

راوَرَوي مې ،

د خوږمن زړه پر اوبچه

د پرهر پرهر هېواد

زخمي يادونه !

سوات، ۹۵-۹-۱۹

## منګنی

پر ګلکخو د سپينو ورځو پسرليو زما

سرې سيلۍ د تورو شپو د پا ټرېژو

رالوتې

په تورو نمرو کې ځان نغښتی اسمان

په وير ويرژلې ناوکۍ مې

د زمونلې چمن

د راپربوتو سپېدارو پر ناورين

د لښېدلو بلبلانو پر ياد.

***

باغ په زمو للو اندېښنو کې

ډوب دی،

د چمبېليو ، رمبېليو وږمې

د باد له کومې لو تېدلې لارې

د کوم ناچېرې نشت آباد

پرلورې ولېږدېدې

سترې ستورې د سپينپڼو ښکالو

د ساده ذهن له آينې

د تاند لبانو تو تکيو

ترې تم شوه ځنگه؟

***

پر کومه خوا د سبرونو کوکۍ

والوتلې

تالا ترغۍ د باجوېکو نړدلې ځالې

د چنارو له ياده ووتلې

ها طلا يې منگنۍ پانې يو مخ

د توپانې سيلۍ اغزنو گوتو

وربژولې ترمې ترمې هسې

د زهرژلو خاموشيو پرگور

پروت د خزان زمولو گلپاڼو ځادر

دبېلتانه په دې کنګل

ساړه سمخ موسم کې

د شنیلیو، ونو بوټو او ګلونو

په یاد

په تورو نمرو کې ځان نغښتي اسمان،

تهوا،

له ډېر ویریې شوې

وچې په لېمو کې اوښکې.

سوات، ۱۳ـ۱۱ـ۱۹۹۵

**د سباوون پر تندي**

کاشکې

دتالندې، برېښنا په شانې

نا غورېدلي خوب د وریځو

وشیرم یو ځلې

او کړم په ستوني کې زندۍ

د تورې شپې سندره.

*

کاشکې

چې ولړزوم

دمرګاني چوپتياوو شنې ګومبزې

په غرونو غرونو انګازو

د فرياد

اوسرې لمبې د ځاځ پر غز

د ارمان

د وخت په تورو ترورېمو کړم پورې

*

کاشکې

خپرې کړم

تاندې تاندې ورېمې ،

لکه ګل شوې د چندړو ونه

پر غرو ورغونو او بېديااوو باندې

اوکړم راويښې

دښيرازو پسرليو په ياد

په ژمني خوب خوبولې نغمې

*

کاشکې

چې هسک ستونځ ته

د لمر هسک شمه

او کېږدم يې خول

دنو ټوکلو پلوشینو وربو

د سپین سپېڅلي سباوون پر تندي،

کاشکې،

ای کاشکې !

پېښور پوهنتون (هاسټل)، ۲۷-۱۲-۱۹۹۵

## نړیوال کال

نړیواله

نوی کاله !

که لرې نه ما لپاره ،

-لکه نور چې هسې تېر شول-

کوم یو زېرې د ژغورتیا

له اورو و وینو.

بس ،

له اوسه درته ایم ،

چې هېڅ ور نه شي

زما سوي الوي ،

په اور وینو سره هېواد ته !

په رګ رګ کې مې لا هسې

د ترخو ترخو یادونو د هپندارو ،

د زخمي زخمي ویرژلو شپو او ورځو

انځورونه

لا کنګلې ژمنۍ شپې

زما د برخلیک ګوتې،

پر درانه مو میا یې خوب د اساطیرو

خوبولې هسې پاتې

او د زمولو رژېدلو چمنونو

له وربوي مې

لېږدېدلې نور د ګلو د موسکاوو

کاروانونه.

*

نو ،

که ته هم چېرې نه شې ،

راژغورای ، ازادوای

له تور طلسمه د پېریو ،

ښکلې ښار د نوآغلیو

ښا پېریو ،

خوشې ماته مه راښیه

هغه رنګ رنګ ګلباغچې د اساطیرو ،

هغه رنګ رنګ ځلوبونه

په نا مه د رڼوبونو !

زه بېزار له غولوني بشروالي ،

ستا مالګيني خواخوږۍ به

پسې نور هم را اوږده کړي

وير ژړلي

پرهرژلي داستانونه...

په دې توګه مې

کوم ځای راپاتې نه دی

هر کلي ته د راتلو ستا ،

دزړه ذهن په ستي سوو کوڅو کې !

*

پرې !

زما دايره شوي بورجل ګوتې

کونډې رنډې ،

نورې هم خپل نوي کال ته

هغه شان سترګې پر لارشي

پسې پاتې !!؟

ګوندې ،

کېږدي خپلو سپورو وربلو کې ،

بيا هماغه سپرلني

غاټول ګلونه

چې له پرنډو پرنډو وينو

دبلهارو تاندلبانو

شائلميو

راټوکېږي

دويرونو ، ناورينونو

په ايرغنو لوغړنو

کنډوالو کې.

*

دانو ځکه

درته وايم

چې نژدې ورنه شې پام

ها زما

په اورو وينو سره

هېواد ته !

ته يې مورېته

همغسې لا پردی...

نړيواله ،

نوی کاله !

پېښور پوهنتون١.١.١٩٩٢

**ویجاړ مزدکونه**

-۱-

لمر د غرونو تر شا پرېوت

ماښام زېړی د شپې راوړ

او تيارو

- په ټول پرغزا او تور زړی،

راوست ښار په خپل نيواک کې.

-۲-

دتورتم د پاسو الانو واکمني شوه

او تورمخو ماښاميانو

د سپېدو پرلارويانو ،

بيا د شپې د گرځېدني بنديز

ولگاوه هله.

-۳-

له کنډر کنډر گومبزو

دويجاړومزدکونو.

دزگېرويو،

درد و وير ښکالووي نغاړي،

دگونگانو له غرغوره

د درني چوپې چوپيا په زړه کې لاره

غلې غلې.

-۴-

نه شو پاتې څه ارزښت نور
دهېنداري د ليدلو
غوړېونه رپاوه ځمکې
پرکيسه د تاندلبانو
نه چا وکړه جنازه د مړځپنو مينانو.

-۵-

خو بيا هم دي له ډېر نيازه
پر دعا د هسک پر لوري
د سپېدو د سپېدارو
ښاخونه پورته
په امېد د قبلېدلو،
دروښان سپېڅلي لمر د خداى
پروړاندې.

پېښور پوهنتون۳-۲-۱۹۹۲

**بيگانې شپه**

برابيي مې

چې له باغ سره کيسه کړه،

ستا د سترګو د ښايست

په اړه،

اسمان هم راوريدله

د ځلېر خيره

ښکلې ښايسته

لکه ګل وغوړېده...

دباغ شينکي شو هم

دوه ګرايه پسې ،

د سپوږمۍ ذهن شو

هېنداره کې د ډنډ

جادو ګرۍ ته د نڅادونو

هېښ پاتې.

او زه بيا هم

ـ ها د پخوا په شانې ـ

هغسې ځانته زنګېدم

د ځلوالي ، بېلتانه په تال کې.

حصارک ۱۹۹۵.۵.۱۱

*ځلېږ (حوض)

**دخیبر پر مرګ**

دا د چا د ببلتانه غږ مې
ترغوږ شو،
چې د زړه واګې مې ووتې
له واکه؟
شاعر ذهن مې خو
دا منلای نه شي
چې «خیبر» دې دومره ژر
په لنبېدو شي،
د «خسرو» او د «خاطر»
له غزلېنه،
د «حمزه» د رزم وبزم
له خیبره!
جم، ۹-۱۱-۱۹۹۵

# پېژند ګلوي

که چېرې وپوښتم چا !

پېژند ګلوي مې څه ده،

په کوم هېواد او سیمې اړه لرم؟

دومره به وو وایم چې

ها بیل مې نوم

او د آدم بچی وم،

جنتي خاوره یې

دوزخ کړه پر ما

او

اوس مې سوې ستې شوې درنګه

لېږدوي چېرې پر اوږو

خپل قاتل ورور

-قابیل-

د کوم بېنوم وبې نښانه

نشت اباد د مړیستون

پر لوري !

کوز تا کال ، ۲۸-۷-۱۹۹۵

## غريو نيولې خندا ګانې

په کومه هيله

پسرلي ته هر کلي ووايم

چې د اسرو د سوي باغ

د ناسپړلو شنو خوبونو پر وير ،

د ګلورينو خنداګانو ستوني

غړيو نيولي،

او د ويالو پر جلوهلو شونډو ،

نورې د ژوند زمزمې

نه نخښږي.

***

په کوم امېد

سپرلي ته غاړې وځم

چې مې د زړه سوې الوې دښته،

د سرو غاټولو پر ځاي-

د نهيليو ځوزاغزي

راټوکي.

او د مهال برېبوکيو په لاس،

زما د یون سترې ستورې

قافلې لو تېږي.

***

هغه بې بر و برکته

پسرلي به څه کړم

چې نور ګلیون د ناوکیو د بڼ ،

د سپرلنۍ وږمې له یاد

وتلي ،

او څوک د زمولو شنیلیو

اکر بکرنه پوښتي.

***

سترګې پر لاړشم خنګه پاتې

د سپرلي راتلو ته

چې د پیړۍ د تورو شپو

د شګنو غشي مې لا ،

د نو آغلیو ګوګلونه

سکني،

او پر ویشتلو تاند لبانو مې

څوک لمونځ د جنازې

نه کوي.

***

ځنګه به هغه پسرلي

وستايم

چې مې د شعر دوتر

لاله ويرنو د بلهارو

وزګار شوی نه دی،

او څوک پر مړو باندې ،

کله سندرې ترانې نه بولي !

پوهنتون ، ۷ـ۴ـ۱۹۹۲

**زما نيمه خوا توتکی**

زما کوشنو تې نيمه خوا توتکی ،

راغله او بيرته په ستنه

د کومنا چيرې نشت اباد

پر لورې ولېږديده ...

ځکه ،

هغه هکه اريانه وه

سو چونو وړې

چيرې کړي ځانته

خپله ځاله جوړه ،

زما د زړه د کور چتونه

ـ لاهغسې د پښوا په شانې ،

وو وران ویجاړ

او نړېدلي پاتې.

ابدالي پوهنتون ، ۹ـ۴ـ۱۹۹۲

(پای)